**د مم امنیت شورا ته د یلدا رویان وینا**

**د افغانستان په اړه د ملګرو ملتونو د امنیت شورا غونډه**

**د ۲۰۲۲، کال د جون ۲۳مه**

ښاغلی رییس، جلالتمابانو او د مدني ټولنې همکارانو!

زه د یوه داسې وطن یم چې تر شپږمه ټولګې پورته پکې نجونې د زده‌کړو حق نه لري او د نړۍ پر مخ د ښځو لپاره تر ټولو ناوړه وطن بلل کېږي. زه یلدا روان یم او د افغانستان یم!

زه د همدې وطن د ښځو د حقونو لپاره کار کوم.

دلته د ښځو د بشري سازمان (VOICE Amplified) استازیتوب کوم او په دې سربېره، د افغان مېرمنو لپاره د عدالت غوښتنې د ګروپ بنسټ ایښودونکې غړې یم.

نن بیا راباندې د غم ورځ ده، ځکه د هېواد په دوو ولایتونو کې مې خلک د زلزلې له امله تر خاورو لاندې شوي، موږ دغه درد ډېر لیدلی، موږ ډېر ځله په یوه ورځ کې ډېر شمېر قبرونه کیندلي.

ښاغلی رییس!

افغان مېرمنو تاسې ته له وړاندې خبرداری درکړی و چې طالبان دروغ وایي چې ګواکې د ښځو حقونو ته درناوي لري، اما تاسې دغه خبرداری بابېزه وباله او دا دی اوس موږ مېرمنې ستاسې او دلته د ناستو کسانو د همدې بې‌غورۍ لوړ تاوان پرې کوو او یو بېخي ناوړه حالت تېروو.

**اوسنی ناورین**

له هغې ورځې چې طالبانو افغانستان اشغال کړی، موږ تر بدو بترې ورځې وینو، له خپلو بشري حقونو بې برخې شوې یوو، پر مېرمنو پرله‌پسې ظلمونه شوي، لوڼې ځپلې دي او له طالبانو وېره د دې لامل شوې چې مدني فعالانو او خبریالانو خپل فعالیتونه درولي.

طالبانو له تېر اګست راهيسې تر اوسه پورې يوازې د ښځو پر ضد تر درېرش زيات فرمانونه صادر کړي چې يوازې د ګوتو په شمار يې نړيوالو رسنيو خپاره کړي، پاتې نور يې يوازې پر موږ عملي شوي او نړۍ نه ده را خبره شوې.

طالبانو دغه ټولو فرمانونو پر موږ په جبر تپلي، يوازې يوه بېلګه يې دلته يادوم!

په همدې تېر اپرېل کې طالبانو په مزار شريف کې يوه ځوانه دايي په شکنجو ووژله. غبرګې پښې يې ځنې پرې کړې، په چړو يې ووهله او بيا يې دوولس ډزه ويشتې وه، دا ځکه چې ښځه وه او بيا په ښځو کې هزاره مېرمن وه، اما افغانې مېرمنې بيا هم د جبر پر وړاندې ودرېدې او د سر په بدل يې د خپلو بشري حقونو په دفاع کې خپل غږ اوچت وساته.

طالبانو په دې سربېره، سلګونه پخواني حکومتي چارواکي او هر هغه څوک چې د دوی د جبر پر وړاندې درېدلي په نښه کړي، شکنجه کړي او يا وژلي دي.

په پنجشېر، بغلان، او تخار کې د تاجکانو په بې‌رحمي نيول، وژل، ځورول او له خپلو کورونو شړل لا هم روان دي.

د روان کال د جون په لسمه، طالبانو په پنجشېر کې د زمان الدين په نامه يو تاجک زده‌کوونکی او د هغه ورور ونيول. له دوی څخه يې د مقاومت د جبهې په اړه مالومات غوښتل، خو هغوی چې مالومات نه لرل، له يوه يې غوږونه پرې کړل، په سترګو يې وويشت او بيا يې له غره وغورځاوه، دا بل ورور يې هم ور وواژه.

دغه د طالبانو اصلي څېره ده او په همدې حالت له تاسې مشروعيت او په رسميت پېژندل غواړي!

د روان کال له مارچ راهيسې کوچيانو پر هزاره افغانانو په بهسودو، مالستان، جاغوري او شيخ علي ولسواليو کې ګڼ بريدونه کړي چې د ځايي فعالانو د راپورونو پر بنسټ، ۳۱ کسانو ته پکې مرګ ژوبله اوښتې، سلګونه کورونه سوځول شوي، ۲۱ کسان برمته نيول شوي او د ځينو مړی ژوندی نه دی مالوم.

يوازې په تېر اپرېل کې پر هزاره افغانانو ۸ چادونې وشوې، د ملګرو ملتونو سياسي استازولي (يوناما) د دغو بريدونو په غندلو کې حتا د قربانيانو مليت هم ياد نه کړ، ښايي دا به ورته بابيزه ښکارېده.

زه له امنيت شورا غواړم چې دغه وژنې دې، نسل وژنه وبولي، ځکه دغه ټول جرمونه په کلي يا جزيي توګه د يوه ملت، توکم، نژاد او مذهبي ډلې د له منځه وړولو لپاره شوي - يا تاسې وواياست، څومره نور هزاره افغانان بايد ووژل شي؟

## د روان ناورين په حل کې د يوناما رول

په تېره مارچ مياشت کې امنيت شورا د يوناما د ماموريت په غځولو او د ښځو او نجونو د حقونو په ګډون، انساني حقونو ته په لومړيتوب ورکولو مهم ګام پورته کړ. که څه هم يوناما په تېر کې زموږ لپاره ناکاميابه وه؛ خو اوس دا تمه شته چې د افغانانو د حالت ښه کېدو لپاره، ارزښتناکې اسانتياوې برابرې کړي.

يوناما تر اوسه د دغو ټولو بشري سرغړونو، جرمنو او قتلونو چې ما يې يادونه وکړه، علني راپور نه دی ورکړی او حتا د ۲۰۲۱ له جولای راهيسې يې د ملکي کسانو د خونديتوب کوم راپور هم نه دی تر سترګو شوی.

په دې سربېره، په زياتو پېښو کې يوناما د مرګ ژوبلې شمېرې ټيټې ښوولې دي.

د بېلګې په توګه يوناما په تېرو پنځو مياشتو کې د مقاومت له ملي جبهې سره د تړاو په تور د لسو کسانو د ناقانونه وژنې په اړه راپور ورکړی، خو د سيمې خلکو يوازې په تېرو دوو اوونيو کې د پنجشېر په سيند کې لس مړي موندلي دي.

په دې سربېره اوس ډېری افغانان په دې باور دي چې يوناما له طالبانو سره د کار کولو په بهير کې بې‌پلوي نه ده ساتلې او د هغوی پر ظلمونو يې پرده اچولې ده. يوناما بايد ژر تر ژره خپل علني راپورونه په منظم ډول له سره پيل او په خپلو ټولو راپورونو کې د مالوماتو د کره‌والي او امانتداري اصل ته پام وکړي او د هېواد وضعيت پکې رښتينی وړاندې کړي.

موږ لا هم د افغانانو، طالبانو او نړيوالې ټولنې تر منځ، د ټول‌شموله خبرو اترو په برخه کې د يوناما چندان رغنده هڅې نه دي لېدلې چې افغانستان د سولې په لور بوځي.

يوناما ته ښايي چې د افغانانو د باور د بېرته تر لاسه کولو لپاره په راتلونکي سياسي بهير کې نه يوازې له طالب مشرانو سره ښکېلتيا، بلکې د افغان مېرمنو بېلابېلو بنسټونو او بهر مېشتو سياسي څېرو ګډون ته لومړيتوب ورکړي.

یوناما مسوولیت لري چې په ټول هېواد کې، د ټولو افغانانو لپاره له تبعیض پرته د بشري مرستو همغږي وکړي.

طالبان لا هم د بشري مرستو په وېش کې د لاسوهنې هڅې کوي او غواړي چې یوازې خپلو پلویانو او سیمو ته بشري مرستې ورسوي، حال دا چې د ښځو په سرپرستي کورنۍ او منزوي قومي ډلې له دغو مرستو بې برخې دي.

دا هغه څه دي چې ثابتوي بشري حقونو ته احترام او بشري مرستې یو تر بل مهمې دي.

که یوناما د بشري مرستو د لېږد په برخه کې د حساب او روڼوالي په تضمین کې پاتې راشي، طالبان به په همدې مرستو خپلو ترهګرېزو فعالیتونو ته دوام ورکړي.

ښاغلی رییس!

که څه هم د افغانستان مدني ټولنې د دې شورا پر ژمنو سختې بې‌باوره شوې؛ خو بیا یې هم پیغام یې دا دی چې د طالبانو د تشدد او جبر غندنه هله په درد خوري چې عمل هم ورسره ملګری شي.

اوس یوازې د افغانستان امنیت او ټیکاو له ګواښ سره نه دي مخ، بلکې د طالبانو واکمني به زموږ هېواد یو ځل بیا د ترهګرو په ځاله بدل کړي او ټول پوهېږو چې د ترهګرو فعالیتونه بیا یوازې زموږ د هېواد تر پولو محدود نه پاتې کېږي.

زه له امنیت شورا څخه د لاندې ګامونو پورته کولو غوښتنه لرم:

1. **که په راتلونکیو ۶۰ ورځو کې د ښځو د حقونو برخه کې پرمختګ را نه‌غی، د طالبانو پر ټولو مشرانو، د ټولو بندېزونو معافیت ختم کړئ.**

د دوشنبې په ورځ امنیت شورا د ۱۳ طالب مشرانو پر سفر د بندیز معافیت وغځاوه. له دغه معافیت څخه د سید احمد شهیدخېل او عبدالباقي بصیر ایستل او د معافیت د مودې راکمول مثبت ګام ګڼو، خو د افغانستان مدني ټولنې په دې خواشینې دي چې امنیت شورا طالبانو ته لا کلکه ګوتڅنډنه نه ده کړې چې که له بشري حقونو سر غړوي، په راتلونکي کې به ورباندې د خبرو اترو ټولې دروازې تړل کېږي.

که افغانې ښځې په ازاده توګه نه‌شي ګرځېدلای؛ نو طالبان ولې ازاد وګرځي؟

تاسې باید په راتلونکیو دوو میاشتو کې د ښځو د حقونو په برخه کې د طالبانو تګلارې او کړنلارې له نږدې وڅارئ. که طالبانو د نجونو پر زده‌کړو، د ښځو پر ګرځېدو، جامو او کار کولو محدودیتونه لېرې نه‌کړل، یا یې د ښځو د حقونو په برخه کې نور محدودیتونه ولګول او د ښځو د حقونو اړوند یې خپل وروستي فرمانونه بېرته وا نه خیستل؛ نو تاسې هم باید د طالبانو د مشرانو پر سفر او شتمنیو بندیزونه جاري وساتئ.

تاسې باید د استخباراتو د عمومي مشر عبدالحق وثیق او د دفاع وزارت د مرستیال فضل محمد مظلوم معافیت هم ختم کړئ. دغه دواړه کسان د بشري حقونو د مدافعینو او خبریالانو په نیولو، توقیف او ځپلو کې لاس لري.

**2. له یوناما څخه وغواړئ چې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي د نوي ځانګړي استازي له ټاکل کېدو سره سم، د ټول شموله او بین الافغاني مذاکراتو برابرولو ته لومړیتوب ورکړي.**

د دوحې د پروسې، چې دې شورا هم تصویب کړې وه، لویه نیمګړتیا دا وه چې د مذاکراتو پر مېز یې افغانانو شتون نه درلود، نو د ټول شموله او بین الافغاني مذاکراتو غوښتنه د سولې لپاره یوازېنۍ ګټوره لار ده. یوناما باید په دغه بهیر کې د ټولو افغانانو ترځنګ، د ښځو او ټولو قومونو ګډون یقیني کړي. د یوې خطرناکې او بې کفایته زورواکې ډلې په لاس کې د افغانستان پرېښوول به دغه هېواد د تلپاتې بې‌وزلۍ او تشدد پر لور بوځي.

**3. د ټولو هڅو ملاتړ وکړئ چې طالبان د خپلو تېرو او روانو سرغړونو حساب ورکولو ته مجبوروي.**

له افغانستان څخه د ځانګړي راپور ورکوونکي د ماموریت ملاتړ وکړئ او امکانات ورکړئ چې د هېواد ټولو برخو ته لاس‌رسی ولري. د حقیقت موندنې د ماموریت یا د بل کوم څېړنیز خپلواک مېکانیزم مرسته وکړئ چې په ټول هېواد کې، د هر چا له خوا چې وي، له بشري حقونو سرغړونې وڅاري، شواهد راټول کړي او راپور یې وړاندې کړي.

که امنیت شورا غوارړي طالبان یا له بشري حقونو بل هر سرغړوونکی یې خبرې جدي وګڼي، نو د ښځو له حقونو د ملاتړ په برخه کې دي، له خپلو خبرو نه په شا کېږي.

له یومانا څخه د ورسپارل شوي ماموریت حساب وغوارړئ او پر طالبانو د ښځو د حقونو په ننګه درانه بندیزونه ولګوئ.

د ګوتو په شمېر افغان مېرمنو تشې ستاینې او جایزې ورکول ودروئ. د دغې شورا غړي هم په ګډه او هم په تنهایي د پام وړ څه کولای شي. زه د یوې افغانې مېرمنې په توګه درڅخه د داسې ګامونو پورته کول غوارړم چې د مېرمنو په درد وخوري، چې زما د وطن هر افغان ته د هغه له ګوتو وتلی کرامت او حق بېرته ورکړي.

ژوند ژوند